Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۱۷ مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۳/۵/۹



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- قطر ته د کارګرو د استولو د بهیر پیل

۲- د کرنیز اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیسته

۳- یو کال کې د سړکونو او اوسپنې پټلۍ ۵۰ پروژې عملي شوې

# قطر ته د کارګرو د استولو د بهیر پیل

قطر ته د افغان کارګرو د قانوني استولو پروسه پیل شوه. د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند، د کار او ټولنیزو چارو سرپرست ملا عبدالمنان عمري او نورو امارتي مسوولینو ګډون کړی و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې ووېل، د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو ته ژمن دی او په دې اړه يې په تېرو څلورو کلونو کې جدي ګامونه اخيستي دي. اقتصادي مرستيال ووېل، د بېلابېلو پروژو له لارې ګڼ شمېر کاري فرصتونه ايجاد شوي دي، خو لکه څنګه چې د هېواد په داخل کې ټولو هېوادوالو ته کاري فرصتونه نه شي برابرېدی، نو اړتيا وه چې مسلکي او ماهر کارګر نورو هېوادونو ته له قانوني لارو څخه واستول شي. اسلامي امارت له قطر سره د یوې هوکړې پر بنسټ په لومړیو کې تر ۲۰۰۰ پورې افغان کارګران یاد هېواد ته استوي، څو هلته په مختلفو برخو کې دندې ترسره کړي. اسلامي امارت غواړي چې هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي. په کوردننه د مختلفو پروژو پیل د دې هڅو څرګند ثبوت دی. خو دا چې په نورو هېوادونو کې هم له کاري فرصتونو څخه استفاده شوي او په غیرقانوني ډول بهرته د هېوادوالو د تګ مخه نیول شوې وي، نو اړتیا وه چې په نورو هېوادونو کې له شته کاري فرصتونو څخه استفاده وشي. نورو هېوادونو ته د افغان کارګرانو تګ د هېواد له پاره ګڼې اقتصادي ګټې لري. د بهرنیو اسعارو راتګ به زیات او ورسره به د هېواد په اقتصادي وضعیت مثبت اغیزوکړي، سیاسي او کلتوري اړیکې به پراخه شي. افغان کارګران به نوي مهارتونه زده کړي او له نوي ټکنالوژۍ سره به اشنا شي. قطر ته د افغان کارګرانو د استولو پروسه د هېوادوالو د هوسایني، د بېکارۍ کچې د کموالي او د اقتصادي پیاوړتیا په موخه پیل شوې ده. اسلامي امارت غواړي چې دغه پروسه پراخه کړي او نورو هېوادونو ته هم افغان کارګر په قانوني ډول واستوي.




# د کرنیز اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیسته

افغانستان د یو کرنیز اقتصاد لرونکي هېواد په توګه اړدی چې له خپلې اړتیا اضافه توکي بهرته صادر کړي. د دې له پاره صنعتي فعالیتونه او د فابریکو جوړول مهم دي.



په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د کابل ولایت په استالف ولسوالۍ کې د افغان سمون شرکت د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه. د پرانیستې مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې فابریکې د فعالیت پیل د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په برخه کې مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به د سیمې اقتصاد په حرکت راشي، صادرات به معیاري بڼه غوره کړي او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي، چې دا د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کولی شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې د صنعت وده د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره مهمه وبلله او له تولیدي شرکتونو څخه یې وغوښتل چې معیاري او

باکیفیته تولیـدات تولید او بهرنیو هېوادونو ته یې واستوي.

د شرکت د مسـوولینو په وینا، یاده فابریکه په ۱۲۸ جریبه ځمکه جوړه شـوې او د کال لس زره ټنه ممیزو د پروسس ظرفیت لري.

خصوصي سـکتور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي او اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د خصوصي سکتور د پانګونې له پاره مناسب چاپېریال برابر کړی دی.

په هېواد کې د کرنې سـربېره په کانونو، انرژۍ، روغتیـا، مخابراتو او نورو ګڼو سـکتورونو کې د پانګونې فرصتونه شـته او پانګـوال کولی شي چې لـه دې فرصتونو څخه ګټه واخلي. اسلامي امارت ټولو پانګوالو ته د ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

پـه تېـرو څلـورو کلونو کـې ګڼـو خصوصي شرکتونو په هېواد کې پانګونه کړې او دا ثابتوي چې اسلامي امـارت د خصوصي سـکتور قوي ملاتړی او همکاري یې ورسره کړې ده.

## یـو کال کـې د سـړکونو او اوسـپنې پټلۍ ۵۰ پروژې عملي شوې

د ټولګټو وزارت ویلي، د ۱۴۰۳ کال په اوږدو کې د سـړکونو او اوسپنې پټلۍ برخـه کې ۵۰ پروژې عملي شوې دي. د یاد وزارت مسوولینو د کلنیو لاسته راوړنو د تشریح په پروګرام کې ویلي چې د سـړکونو د سـاتنې او جوماتونـو جوړولو په برخه کې یې هم ګڼې پروژې پلي کړې دي.

افغانسـتان کې د سـړکونو پراختیـا او د نویو سړکونو جوړولو ته ډېره اړتیا لیدل کېږي. دا د افغانسـتان د داخـلي اتصال او سـوداګرۍ د پیاوړتیا له پاره ډېر مهم دي.

افغانسـتان د اسـیا د زړه پـه توګه د سـړکونو شـبکې پراختیـا او تنظیم ته ډېـره اړتیا لري، ځکـه د منځنـۍ او سـویلي اسـیا ترمنـځ د نښلوونکي سوداګریز پُل په توګه رول لوبوي.

په ۱۴۰۳ کال کـې د کابل-جلال اباد او کابل - غزني دویم لین سړکونو، د سالنګ لویې لارې بیارغونې، د کابل ښـاروالۍ له لورې د کابل ښار سړکونو پراختیا او نویو سړکونو جوړولو ترڅنګ ګڼې پروژې پیل شوې. دغه راز، د اوسپنې پټلۍ برخه کـې د هرات-خواف اوسپنـې پټلۍ برخه کې پرمختګونه ولیدل شول.

اسلامي امـارت پـه تېـرو څلورو کلونـو کې د افغانسـتان د اقتصـادي ودې له پاره اسـاسي ګامونه اخیستي دي. اسلامي امارت غواړي چې د داخلي اتصال د پیاوړتیا له لارې په هېواد کې د سـوداګرۍ پراختیا او بېکارۍ کچـې کمولو ته زمینه برابره شي.

